سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۴/۰۹

# د خدای ج خوښې!

هرګل د اُمیدونوچې غوړیږی خدای ج خوښیږی
ارمان چې مـو د زړونو پـوره کیږی خدای ج خوښیږی

خالـق د مینـی نه غـواړی بیلـتون او فاصله
یاران چې یود بل نه قربانیږی خدای ج خوښیږی

ایمـان نــه ګـټل کـیږی پــه نسـب او پـه دولـت
ایمان چې انسانیت کی څرګندیږی خدای ج خوښیږی

دنیا په عمل جوړه ده خو ښکلی ده په مینه
چې مینه په عمل کی پلی کیږی خدای ج خوښیږی

نـه ژبـه بیلـوی شی بنـیـادم او نه مذهب
انسان چې بل انسان ته نژدی کیږی خدای ج خوښیږی

بـد رنګـه فاصلی دی د دوسـتی پـه لار کی خنډ
دا لــری فاصلی چې څو کمیږی خدای ج خوښیږی

وصلت مو د ځوان نسل دی بری د محبت
هر مات زړه چې سینه کی ورغیږی خدای ج خوښیږی

ته هم لږه ژوندۍ کړه کلیواله زړه کی مینه
هر څو چې مینه زړونو کی ډیریږی خدای ج خوښیږی.